# د Kærshovedgård  خروجی پنډغالی (کمپ) له پاره قوانین

**1 - عمومیات:**

**موخه**

د قوانینو د جوړلو موخه، ددی کمپ د کار کونوکو او اوسیدونکو له پاره آرامتیا، نظم اوخوندیتوب(امنیت) دئ.

د پنډ غالی اوسیدونکی باید د کارکونکو اوامر عملی کړی.

**2- د هستوګنی شرطونه**

پنډغالی ته رسیدل
کله چه کمپ ته راشی، نو د کمپ کار کوونکی تاسی ته یو اطاق سپاری او هم درته عمومی مالومات بیان کوی.

مسئولیتونه
تاسو لاندی مسئولیتونه په پنډ غالی کښی لری
1 - که تاسو ته ویل شوی وی چه شپه او ورځ له کمپ څخه لاړ نشی، نو باید بهرکی د شپی پاتیکیدو لپاره د مهاجرینو ریاست هوکړه و لری.
2- که تاسو ته نه وی ویل شوی وی چه شپه او ورځ له کمپ څخه لاړ نشی، نو باید بهرکی د دریو شپود پاتیکیدو لپاره د جرمی سلاح کار(مشاور) ( Kriminalforsorgen ) څخه رخصت واخلی.
3 - که ستاسو په حقله تصمیم نیول شوی وی چه د پولیس سره نوم ولیکی، نو د حکم سره سم خپل نوم د پولیس سره و لیکی.
4 - که ستاسو په حقله تصمیم نیول شوی وی چه مالومات ورکړی، نو د حکم سره سم مالومات ورکړی.
5 - که پر کمپ کښی نه یاست او هم مو دری ورځی خپل لیک تسلیم نه شوی، او که چیری د پنډ غالی کار کوونکی غواړی تاسو سره لیدنه و کړی او تاسو حاضر نه شوی نو ناسوب ( غیر حاضر) شمیرل کیږی.
ستاسی ناقانون نه شتون ددی لامل کیږی چه تاسو د روغتیائی چوپړ (خدمات) او د اقتصادی مرستی څخه بی برخی شی. ستاسو د نه شتون خبر پولیس او د مهجرینو ریاست لیږل کیژی او په پایله کی وروسته له دری میاشتو له دنمارک څخه ایستل کیږئ.

**لیکونه او مالومات**
تاسو هره ورځ و ګوری چه لیک درته استول شوی ؟. په کمپ کښی د مالوماتو لپاره لوحه شته او تاسو ته ښائی هره ورځ هغه لوحه و ګوری څو په مالوماتو خبر شی.

**پنډ غالی ته داخل کیدل**
تاسوته ښائی چه کمپ ته دراتلو په وخت کښی خپل د پناه غوشتنی / دننوتلوکارت په ور ( دروازه) کښی د ور دنده لرونکو ته شکاره کړئ. پنډ غالی ته یوازی د دننوتلو له لاری را تلی شئ. که د پنډغالی کار کونکی اسناد غواړی، نو د پناه غوشتنی او د کلی کارت ور ګړئ.
د کلی کارت ستاسو مال دئ او بل چاه ته ئی مه ورکوی. له دی کارت سره د خپل هستوګنی ځای ته ننوتلی شئ. د کلی کارت خپله نوی کړی.

**دیوالونه**
په ځنګلی دیوالونو کښی چه د کمپ په منځ او یا شا او خوا کښی دی له لاس وهلو ډډه و کړی.

**په پنډغالی کښی دریدل**
د پنډغالی په منځ او یا پنډغالی ته جوخت او په بهر کښی ډیر وخت مه دریږی. او پرته له کوم دلیل څخه د کمپ کار کونکو اود جنائی چوپړ(خدمات) کارکونکو د شعباتو مخ ته مه دریږی. له کمپ څخه بهر ترافیک او ګاونډیانوته پاملرنه و کړی.

**د شپی آرامی**
په پنډغالی کښی باید د شپی له 23 د سهار تر7 بجو آرامی وی.

**3 - اطاق او لوازم**

**اطاقونه**

د کمپ کارکونکی تا سوته اطاق (کوټه) در کوی، د هغوی دنده ده چه تاسو ته ځای و ټاکی او تاسو ئی هرومرو ومنی. خپله کوټه، دهلیز او تشناب پاک و ساتی او په پای کشی بیرته هغسی و سپاری، څنګه چه در کړل شوی ؤ. تاسو هره ورځ باید ګړکی خلاصه کړی او کوټی ته تازه هوا ور کړی. په کوټه کی برمه مه کوی، او میخ مه وهی. په خپله کوټه کی خواړه مه پخوی، کوم لوازم چه درکړل شوی، د کمپ د کارکونکو له خبرتیا پرته ئی مه لړ او زیاد وی، برقی آلات مه کاروی.

په ځانګړی حالت کشی لکه نا روغی، کولای شئ د کمپ د کار کونکو په خوشه ځنی شیان و کاروی.

د برقی وړو سامانونو لکه د ویشتانو د و چولو سامان څخه استفاده کولای شئ.

کورنی ژوی(حیوانات) مه ساتئ، په پنډ غالی کی الو تونکو، پشیانو او نورو ژویوته خواړه مه اچوی.

څوک چه نا قانونه عمل وکړی له دنمارک څخه شړل کیږی.

**مشترکی ساحی**

مشترکی ساحی او ټول دهلیزونو باید له موانعوڅخه پاک وی، څو د کومی پیشی لکه اور لګیدنه او داسی نورو په وخت کی د تیشتی لار خلاصه وی. کثافات باید په کثافات دانی کشی واچول شی. څوکی او میزونه پاک و ساتل شی. د هر ډول ورانی او ویجاړی خبر پولیس اود مهاجرینو ریاست ورکول کیږی.

د ویجاړی د بیا جوړلو لګشت هم ورنه غواړو.

**ستاسو د کور لوازم**

تاسو د خپل اطاق صلاحیت لری،اوپه هغه کښی د هر ډول بد لون مسئولیت ستا سو په غاړه ده. پرته د کمپ د کارکونکو له خبرتیا ډیر لوی سامان خپل اطاق ته مه وړئ.

**د کمپ د کارکونکو ننوتل ستاسو اطاق ته**

د پنډغالی کارکونکی د اړتیا په وخت کی ستاسو کوټی ته ننوځی، خو تاسوته باید لمړی وویل شی.

که غوره پیشه وی، نو پرته د ستاسو له شتون او خبرتیا هم هلته ځی، د بیلګی په توګه په اورلګیدنی او داسی نورو غوره پیشوکی. که تاسو و نه ِغواړی نو هغوی له پولیس څخه مرسته غواړی.

**موټرونه او بایسکلونه**

موټرونه او بایسکلونه باید په هغه ځایونو کشی ځای پرځای شی چه ورته ټاکل شوی دی. بایسکلونه د کمپ منځ ته مه راوړی.

**4 - چلند او جرم**

عمومیات د چلند په حقله

غوره ګڼل کیږی چه تاسی د پنډغالی نورو اوسیدونکو ته 24 ساعته پاملرنه و کړی.

تیری، تبعیض، وحشت او هر ډول چلند چه د نورو د سپکاوی لامل شی، دلته منع دی.

تاسو څوک مه سپکوی

تاسو څوک مه ګواشوی

تاسو د نورو اشخاصو د جنسیت، سن، ملت، جنسی تمایلاتو سره تعصب مه کوی او د داسی چلند څخه چه د نورو د خواشنی لامل شی ځان و ژغوری. د یاد چلند کوونکی پولیس ته شودل کیږی او د مهاجرینو ریاست ته خبر ورکول کیږی.

**جرم**

جرم په کمپ کشی د منلو وړ نه ده.

جرم لکه د مخدره توکو خرڅلاو، اسلحه لرل، تاوتریخوالی ، ګواش، ورانی، غلا کول، د غلا توکی اخیستل او داسی نور دی. د جرم کوونکی پولیس ته شودل کیږی او د مهاجرینو ریاست ته خبر ورکول کیږی.

**دین**

دین د یو شخص شخصی عمل دئ،شخص کولای شی خپل دینی مراسم عملی کړی، خو چه د کمپ اسیدونکو ته مزاحمت و نه کړی. په کمپ کشی د عبادت له پاره ټاکلی ځای نشته، اوعبادت کوونکی حق نه لری چه ځای د عبادت له پاره و ټاکی.عابدین کولای شی له دینی ناشرانو سره په کمپ کی د کمپ له قوانینو سره سم و ګوری.

**تصویر او ویدیو**

تاسو حق نه لری چه په کمپ کشی فیلم جوړ کړی، مصاحبه و کړی او یا د اوسیدونکوعکس واخلی، که هغوی و نه غواړی.

**سګرټ څکول**

تاسو کولای شی په خپل اطاق کی سګرټ و څکوی، خو چه هم اطاقیانوته مزاحمت نه وی. د کمپ په منځ کشی د سګرټ څکولوله پاره ټاکلی ځای شته، تاسو کولای شی هلته سګرټ و څکوی څو د کمپ نورو اوسیدونکوته مزاحمت و نه کړی.

**شراب**

د کمپ په مشترکو ساحو کی د شراب څکل منع دی. برسیره پرهغه باید شراب څکونکی د کمپ اوسیدونکو ته مزاحمت و نه کړی.

**اور لګونه**

تاسو د کمپ په منځ کشی اور مه لګوی.

**هټی (مغازه) په کمپ کشی**

په کمپ کشی هټی مه جوړوی، خپل مال او ظرفیتونه مه خرڅوی.

**کثافات**

کثافات په کثافات دانی او کانتینر کی واچوی، د ځمکی پرمخ ئی مه اچوی.

**5 - فعالیتونه او ړاندیزونه د کمپ د اوسیدونکو له پاره**

تاسو په تدریس او هغه فعالیتونوکشی برخه واخلی چه د کمپ د اوسیدونکو له پاره وړاندیز کیږی، او دا موضوع ستاسو په تړون (قرارداد) کی هم لیکل شوی ده.

فعالیتونه دادی:

تدریس چه سور صلیب ترتیب کړی دئ

پاک کاری او د کمپ ساتل په شه توګه

د خپل اطاق پاک او شایسته ساتل په ټوله اونی کشی

کولای شی په نورو فعالیتونو کی هم برخه واخی لکه:

فعالیتونه چه سورصلیب پلان کوی

تفریحی فعالیتونه

**غذاخوړل**

تاسو هره ورځ دری ځله په کافیتریا کی ډوډی خوری.

د ډوډی خوړلو پلان د کافیتریا په لوحه کشی لیکل شوی دئ.

ډوډی په کافیتریا کی خوړل کیږی، خو د ناروغی په حالت کی استثنا ممکن ده.

دپیاله،ګیلاس، قابونو، قاشوغواو پنجه وړل له کفتریا مجاز نه ده.

**روغتیا**

کلینک په اونی کی دری ورځی کارکوی (مخکی له غرمی )، نرس مشوره ورکوی اوناروغ د نو رو ځیرنو له پاره ډاکټرته معرفی کیږی.

د کلینیک د کار پلان د کلینیک په لوحه کی لیکل شوی دئ.

که د کلینیک د کار وخت نه وی، نو ستاسی درملنه له کلینیک څخه بهر، د زون په روغتیائی سیستم اړه لری، په دی برخه کشی د ډیرو مالوماتو له پاره د کمپ له کار کونکو څخه پوښتنه و کړی.

**لیدنه**

تاسوحق لری چه له خپلو دوستانو سره په کمپ کی لیدنه و کړی، او دا لیدنه باید د کمپ له کارکونکو سره پلان شوی وی.

د لیدنی وخت 22.00 الی 9.00 دئ.

ستاسو میلمانه باید د کمپ قوانین مراعات کړی اوټول وخت تاسوسره وی.

**انټرنټ**

تاسو کولای شی چه د انترایت څخه په خپل کمپیوټر، مبائل او د کمپ په کمپیوترکشی استفاده و کړی.

د جنائی مسائیلو سلاح کار Kriminalforsorgen ستاسو کمپیوترlog کوی.

**اور لګیدنه او خوندیتوب**

تاسو مکلف یاست، د تخلیه له پلان سره چه د اور لګیدنی په وخت کشی کارول کیږی ځان آشنا کړی. دا پلان ستاسو د هستوګنی په ساختمان کی شتون لری.

**6 - مسئولیت**

د خساره مسئولیت

تاسو د دنمارک د قانون په بنسټ، د عادی خساره ورکولو مسئولیت لری. د هر ډول ورانی خبر پولیس اود مهاجرینو ریاست ته ورکوول کیږی.

ماشومان

موراو پلار د خپلو پچیانود ساتلو مسئولیت لری. د ماشومانو ساتنه د میندو او پلرونو اویا د هغو په خوشه د یوبل مشرمسئولیت دئ.

**7- د کمپ له قوانینو سرغړونه**

د کمپ له قوانیونوسرغړونه تا سوته ناوړه پا یله لری،لکه ستاسی د هستوکنی پر ځای په کمپ کی، او د دوستانوپر لیدنه.

د جرمی مسئلوسلاح کار

18. .Aprig 2018